بسم الله الرحمن الرحیم

# بشپړ لمونځ



Ketabton.com

ليکوال :- زاهـــــــدالله توحيديار"ابراهيم زی" اندړ
Email:zahidebrhemzai@gmail.com

کال ه لمريز : ۱۳۹۵/۹/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

لمونځ د اسلام دوهم رکن دی چې له لارې یې د بنده او معبود ترمنځ اړیکه ټینګیږي او د یوه ربښتیني مسلمان د پیژندنې له نښانو یوه نښه ګڼل کیږي او ډېر ستر حکمتونه لري.

لمونځ په رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو د نبوت په لسم کال د معراج په شپه د عرش له پاسه د الله تعالی او د هغه د رسول ترمنځ د مخامخ خبرو له لارې فرض شوی .

الله تعالی په ګڼو مبارکو ایتونو کې مسلمانانو ته د لمانځه امر کوي لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي

(( وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ)) سورة البقرة (43)

ژباړه : او لمونځ ترسره کوئ ، زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ.

همدارنګه الله تعالی په نورو ګڼو ایتونو کې هم د لمانځه دکولو په اړه په مسلمانانو امر کوي.

لمونځ په اسلام کې ځانګړی او ارزښتناک ځای لري نوباید په ښه توګه ترسره شي ددې دپاره چې لمونځ په سمه توګه ترسره کړو نوماهم دا یو وړوکی کتاب چې د لمانځه په اړه دی ستاسو درانه چوپړ ته وړاندې کړ او د امکان تر حده پوري مې کوښښ کړی دی چې په روانو او ساده جملوکې مطالب راټول کړم، هیله ده چې د لوستونکو د ګټې وړ وګرځي. څرنګه چې هیڅکله انسان له غلطۍ څخه خالي نه دی نوکه کومه غلطۍ را څخه شوي وي بخښنه راته کوئ.

په پای کې زه زاهدالله ؛ ابراهیم زی؛ (اندړ) چې اوس مهال د غزني په پوهنتون کې خپلې تحصلي زده کړې پرمخ بیایم له الله ج څخه ډېر منندوی یم چې ماته یې په دې بوختیاوکې د دې مطالبو د راټولولو او لیکولو حوصله راکړه.

لیکوال : ستاسو دخیر دُعاګانوته اړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپاکۍ پيژندنه

## داوداسه احکام

الف :هغه کارونه چې اودس پرې ماتيږي هماغه کارونه اودس لازموي : لکه دانسان له دوولاروڅخه دکوم شي وتل؛قې

کول؛خوب کول؛اوداسې نور

## ب: داودس دفرضيت دليل

په قرانکريم کې الله تعالی مؤمنانوته خطاب کولوپه ترڅ کې فرماي

يَاأَيُّهَاالذِينَ امَنُواالذُاقُمتُم اِلى الصَلاة فَا غُسِلُواوُجُوهَكُم واَيْدِيكُم اِلى المَرافِقِ وَامْسَحُوابِرءُوُسِكُم واَرجُلَكُم اِلى الكَعبَينِ (المائدة(6)

يعنې : ای مؤمنانوکله چې تاسې دلمانځه له پاره پورته کيږئ نوبايدچې خپل مخونه ، اولاسونه ترڅنگلوپورې وويڅئ ، په

سرونوباندې لاسونه راتيروئ ، اوپښې تربيلهيوپورې وويڅئ

### داوداسه فرضونه

داوداسه څلورفرضونه دي

(۱) يوځل دټول مخ پريمنځل

(۲) ترڅنگلوپورې ددواړولاسونوپريمنځل

(۳) دسردڅلورمې برخې مسح کول

(۴) تربيلهيوپورې دپښوپريمنځل

### داوداسه سنتونه

داوداسه (۱۳) دانې سنتونه دي چې په لاندې ډول دي

(۱) داوداسه لپاره نيت کول

(۲) دبسم الله الرحمن الرحيم ويل

(۳) ترمړوندنوپوري ددواړولاسومينځل

(۴) درې واري خوله مينځل

(۵)مســـــــــواک وهل

(۶) درې وارې پوزې ته اوبواچول

(۷) دږيرې خلالول

(۸) دپښواولاسودگوتوخلالول

(۹) دټول سرمسحه کول

(۱۰) دسرپه اوبوسره ددواړوغوږونومسحه کول

(۱۱) پرترتيب سره اودس کول

(۱۲) اول ښی اوبياچپ لوری وينځل

(۱۳) په يوه غړې پسې سمدستې بل غړی وينځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داوداسه ماتونکې شیان

**دلاندې چارو په ترسره کیدوسره اودس ماتیږي**

**(۱): دتشواوډکومتیازوله لاروڅخه دکوم شي وتل**

**(۲) له بدن څخه پداسې شکل سره وینې وتل چې له خپل ځای څخه پاک ځای ته حرکت وکړي**

**(۳) په ډکه خوله کانګي (قی) کول**

**(۴) په لیاړوکې په داسې شکل سره دوینې راتلل چې دوینې رنګ زیات وي**

**(۵) بغیرله شهوت څخه دمنیووتل (چې دمرض یادیخنۍ په سبب وي**

**(٦) دښځوله سینوڅخه له شیدوپرته نورڅه (اوبه یا وینه ) راوتل**

**(۷) له ښځې څخه داستحاض وینه راتلل**

**(۸) مذیواوودیووتل**

**(۹) په کوموشیانوچې غسل لازمیږي اودس پرې حتماً ماتیږي**

**(۱۰) ژورخوب:یعنې داسې خوب چې انسان په بشپړډول خپل کنترول له لاسه ورکړي لکه په اړخ خوب،ستوني ستاغ اویاپه کوم شي په داسي ډډه وهلو ویدېدل چې که هغه ترې لرې شي نودی به ولویږي.**

**(۱۱) په بیهوشوکیدوسره**

**(۱۲) په نیـــــــــــــشه کیدوسره**

**(۱۳) دجنازې له لمانځه پرته په هرلمانځه کې په قهقهه خندلوسره**

**(۱۴) ددووکسانو تناسلي غړې چې دشهوت په حالت کې په داسې توګه یوځای شي چې ترمنځه یې بل شې پرده نوي بې له انزال هـــــــــــــم اودس ماتیږې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غـــــــــسل

**غسل په لغت کې ټول بدن پرېمنځلوته ویل کیږي اوداسلامې شریعت په اصطلاح کې دشریعت دښودل شوي طریقې سره سم دحکمې ناپاکۍ لرې کولواویایواځې دثواب حاصلونې په خاطردټول بدن وینځلوته غسل ویل کیږي**

**دغسل دفرضیت دلیل**

الله (ج) فرمايي : وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُباً فَاطَّهَّرُوا وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضى أَوْ عَلى سَفَرٍ أَوْ جاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغائِطِ أَوْ لامَسْتُمُ النِّساءَ فَلَمْ تَجِدُوا ماءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيداً طَيِّباً فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ ما يُرِيدُ اللهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (المائدة ۶)

**یعنې : که دجنابت په حال کې یاست نوپه لمبلوځان پاکړئ ، که ناروغان یامسافریاست ، یاتاسې نه کوم څوک له حاجت پوره کولونه راشي یا تاسې په ښځولاس لګولې وي ، اواوبه ونه مومۍ ، نوله پاکي خاورې نه کارواخلئ ، پرمخې لاسونه ووهئ ،په خپلومخونواولاسونوباندې یې راکاږئ،الله (ج) نه غواړي چې ژوند درباندې تنګ کړي، خوهغه غواړي چې تاسې سوتره کړي اوخپل نعمت پرتاسې پوره کړي ، ښایي شکروېستونکي شئ**

دغسل احکام

**الف : دغسل فرضونه**

**(۱) دخولې پرېمنځل په داسې طریقې سره چې ستونی هم ورسره لوند شي**

**(۲) په پوزه کې اوبواچول**

**(۳) ټول بدن ته په داسې طریقې سره اوبه رسول چې دوېښته په اندازه ځای هم پکې وچ پاتې نه شي دوېښتانوبیخونواودنوکانولاندې ځایونوته اوبه رسول هم ضروري دي که دښځې دوېښتانوبیخونوته اوبه رسیدې دکوڅیوسپخولوته ضرورت نشته . اوکه سرېودښځوپه څیرکوڅۍ پرېښې وي دهروېښته لمدول پرې فرض دي**

**ب: دغسل سنتونه**

**(۱) نیت کول**

**(۲) لمړی اودس کول**

**(۳) دواړه لاسونه ترمړوندونوپورې مینځل**

**(۴) مسواک وهل**

**(۵) په ټول بدن درې وارې اوبه تیرول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج: دغسل ډولونه

**غسل په درې ډوله وېشل کیږي ، فرض،سنت،مباح**

**(۱) دلویې بې اودسۍ (جنابت ، حیض ، اونفاس) څخه دپاکی په خاطرغسل کول فرض دی**

**(۱) داجراوثواب په نیت غسل کول سنت دي ، لکه دجمعې دلمانځه لپاره غسل کول، داخترونولپاره غسل کول....**

**(۳) له بدن څخه دخیروپاکولواویاپه ګرمۍ کې دبدن دیخولولپاره غسل کول مباح دي**

# تیمم

**دتیمم پیژندنه**

**تیمم په لغت کې قصد،ارادې،اوعزم ته ویل کیږي.اوداسلامې فقې په اصطلاح کې له حکمي نجاست څخه دپاکوالي په نیت پاکې خاورې ته قصدکول دي**

**دحکمي نجاست پیژ ندنه**

**حکمي نجاست دناپاکۍ هغه حالت ته ویل کیږي چې چټلي یې په سترګونه ښکاري خوشریعت نجس ګڼلې لکه بې اودسي ،جنابت اونفاس اوداسي نور...**

**دتیمم درواوالي دلیل**

((فَلَم تَجِدُوا مَاءًفَتَيَمَمُوا صَعِيداًطَيِباًفَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ واَيْدِيكُمْ اِنَ اللهَ كَانَ عَفُواًغَفُوراً))النساء۴۳

**یعنې : که اوبه ونه مومۍ نوله پاکې خاورې نه کاراخلئ اوله هغې نه خپل مخونه اولاسونه مسح کړئ ، بیشکه الله ((ج)) له نرمۍ نه کاراخیستونکې اوبخښنه کوونکې دی**

**الف: دتیمم درواوالي صورتونه**

**(۱) چې داوبوپیداکولوهیله ختمه شي یادیومیل په اندازه لرې وي**

**(۲) داوبوپه خواکې دښمن یاکوم ضرري حیوان وي**

**(۳) دکوهی رسۍ یابوکه نه وي**

**(۴) که ښځه په کورکې وي له کوره په وتلواواوبوپه راوړلوکې دهغې دغزت اوابروپه خطرکې وي**

**(۵) اوبووي خودڅښلولپاره ایله بس کیږي**

**(٦) اوبه وي خودصحت لپاره یقیناً ضرررسوي یاورسره مرض زیاتیږي**

**(۷) اوبه وي خودضرورت لپاره په ګران قیمت ورکول کیږي یاورسره داخستلو وس اوتوان نه وي**

**(۸) داوداسه یاغسل په کولوسره دداسې لمانځه دتللوویره وي چې قضاء ونه لري لکه دجنازی لمونځ، داخترونولمونځ دخسوف اوکسوف لمونځ**

**(۹) دډیرې کمزورۍ له امله اوبه نشي راوړلی یایې له کوهی نشې راایستلې**

**(۱۰) که څوک په ریل ،جهاز،یابل شي کې سفرکوي اوهغه روان وي نه ودریږی ، اوپه هغو کې اوبه نه پیداکیږي یااودس کول ممکن نه وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ب) دتیمم فرضونه**

(۱) دالله (ج) درضا له پاره له حکمي نجاست څخه دپاکیدونیت کول.

(۲) دواړه لاسونه په خاوره وهل اوپه ټول مخ یې راګرځول

(۳) بیا لاسونه په خاوره وهل دځنګلوپه شمول یې په دواړه لاسونوراګرځول

## (ج) هغه شیان چې تیمم پرې روا یا ناروادی

په خاوره ، اوهغه شیان چې دخاوري له جنس څخه دي ، لکه رانجه، چونه ، ډبره ، خښته ، سره خاوره ، مرمر، فیروزه ، اوداسې نوروباندې تیمم کیږې

کوم شیان چې دځمکې له جنس څخه نه دي ،اویاپه اورکې سوزیږي،ایره کیږي یاویلې کیږي لکه لرګی، اوسپنه ، سره زر، سپین زر،مس، زیږ،شیشه ، قلعی ، جامه ،فلزات ، سکاره ، کاغذ، نیلون ،ایره ، اوپلاستکی شیان تیمم پری نه کیږي . البته په پورتنیوشیانوکه دومره ګرد پروت وي چې په لاس سره معلوم شي یا دوړه وکړې بیاپرې تیمم روادی.

## لـــــمونځ

**لومړی دلمانځه دفرض کېدوشرطونه**

لمونځ پرهغه چا فرض دی چې لاندې شریط ولري

(۱) اسلام : پرکافرباندي نشته

(۲) عقل اوهوش : پرلیوني اوبې هوشه ، دبیهوشۍ په حالت کې نشته

(۳) بلوغ : پرکوچنی هلک اوانجلۍ نشته

(۴) دښځې لپاره له حیض اونفاس څخه پاکوالې

دلمانځه ټول فرضونه (۱۴) دانې دي چې په هغوکې (۷) خارجي دي هغه خارجي یعنې داچې دلمانځه شرطونه دي او(۷) یې دخلي دي یعنې دلمانځه ارکان

## الف: دلمانځه دصحت شرطونه

دلمانځه دصحت شرطونه هغه دي چې دصحت لپاره اړین دي که په دغوشرطونوکې یوهم نیمګړې وي لمونځ نه صحیح کیږي چې په لاندي ډول دي

(۱) له وړې اوغټې بې اودسې څخه پاکوالی

(۲) دبدن پاکوالی

(۳) دجامې پاکوالی

(۴) دهغه ځای پاکوالی په کوم ځای چې لمونځ کیږي

(۵) دعورت پټوالی

(٦) دلمانځه وقت پیژندل

(۷) مخامخ قبلې ته دریدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (ب) د لمانځه ارکان

**دلمانځه د ارکانوڅخه هدف هغه فرضونه دي چې په لمانځه داخل دي که له دغوارکانوڅخه په یوه کې هم نقصان رامنځ ته شي لمونځ فاسیدیږي**

**چې دغه ارکان په لاندي ډول دي**

**(۱) دلمانځه لپاره نیت کول**

**(۲) تکبیرتحریمه ده**

**(۳) قیام دریدل**

**(۴) قرائت ویل: دفرض لمځونوپه لومړنیودوورکعتونوکې دنفلواوسنتونوپه ټولورکعتونوکې قرائت ویل فرض دی**

**(۵) رکوع کول :- څرنگه الله (ج) فرمایلي دي (یاایهالـــــذین امنواارکعواوسجدوا(الحج (۷٦)**

**یعنې: ای مؤمنانورکوع اوسجده وکړئ**

**(٦) سجده کول**

**(۷) اخیرقاعده**

## دلمانځه واجبات

**دلمانځه دواجباتوڅخه مراد هغه مهم کارونه دي چې په لمانځه کې یې اداکول اړین دي که له دغوکارونوڅخه یوپاتې شي نود سهوې سجده لازمیږي اوکه قصداًپرېښبنودل شي نودلمانځه دفاسیدېدوسبب گرځي**

**اوددغه لمانځه بیا راگرځول لازمیږي چې دغه واجبات په لاندي ډول دي**

**(۱) دفرض لمونځونوپه دوولومړنیواودنوررولمونځونوپه ټولورکعتونوکې دفاتحې سورت ویل**

**(۲) دفاتحې دسورت سره دفرض لمونځونوپه ددوولومړنیورکعتونواودنوررولمونځونوپه هررکعت کې دبل سورت یوځای کول**

**(۳) دبل هرسورت نه مخکې دفاتحې سورت ویل**

**(۴) دقرائت،رکوع، سجدو،اوارکانوترمنځ ترتیب ساتل**

**(۵) قومه یعنې له رکوع څخه له راپورته کیدووروسته سم دریدل**

**(٦) جلسه یعنې ددواړوسجدوترمینځ په ارام سره کیناستل**

**(۷) دارکانوتعدیل یعنې رکوع سجده په پوره اطمنان سره اداءکول**

**(۸) لومړی قاعده**

**(۹) په دواړوقاعدوکې یوځل التحیات ویل**

**(۱۰) دامام لپاره په هغولمونځونوکې قرائت په لوړاوازویل چې په جهرویل کیږي لکه دسهارماښام اوسختن لمونځونه ،اوپه هغولمنځونوکې چې قرئت خفیه ویل کیږي خفیه ویل لکه دمازدیگراوماسپښین لمونځونه**

**(۱۱) دالسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته په الفاظوسره لمونځ ختمول**

**(۱۲) دعاقنوت ویل اوپه وترلمانځه کې دقنوت لپاره تکبیرویل**

**(۱۳) ددواړواخترونودلمانځه تکبیرونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دسهوي سجده

**که دلمانځه له واجباتوڅخه یوپه سهوه سره پاتې شي نود سهوي سجده لازمیږي چې په لاندی ډول ده په یوکارکې خطاکیدوته سهوه ویل کیږي ، په لمانځه کې سهوه دامعنالري چې له یوچاڅخه په لمانځه کې کموالی اوزیاتوالی وشي ، ددغې کمي اوزیاتي دجبران لپاره ، په اخره قاعده کې له سلام ګرځولووروسته دوه سجدې کول عبارت دسهوې له سجدې څخه دی**

### دسهوي دسجدې طریقه

**(۱) په اخره قاعده کې ترتشهدپوري التحیات ویل**
**(۲) ښې لوري ته سلام ګرځول**
**(۳) په اطمنان سره دوه سجدې کول**
**(۴) له سجدوکولووروسته التحیات لپاره کیناستل تراخره د درود اودعاپه شمول دالتحیات ویل**
**(۵) په اخره کې دواړوطرفوته سلام ګرځول**

## د سهوي سجده په لاندي حالاتوکې لازمیږي

**(۱) څوک چې دلمانځه په یورکن (فرضو) کې وروسته والی راولي مثلاًقیام فرض دی یوڅوک دریم رکعت ته په پورته کیدوکې له تشهد وروسته نورهم کینی اودرود شروع کړي یاپه یورکعت کې درې سجدې وکړي.سجده سهوه لازمیږي**
**(۲) دلمانځه له واجباتوڅخه کوم یوپه هیره سره پاتې شي مثلاًدفاتحی سورت یابل کوم سورت چې دفاتحې پسې وروسته ویل کیږي هیرشي یا داچې لومړنۍ قاعده په هیره سره پاتې شي.سجده سهوه لازمیږي**
**(۳) په واجباتوکې وروسته والی رامنځته کیدل مثلاًدفاتحې دسورت سره دبل سورت پیوست کول واجب دی څوک چې دفاتحې له سورت څخه وروسته دومره ځنډ چپ ودریږي چې رکوع اوسجده پکې وشي سجده سهوه لازمیږي**


وړاندي کونکی زاهـــــدالله توحـــیدیار (ابراهیم زی) اندړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سهوې دسجدې ځينې مهم مسايل

(۱) دفرضو(ارکانو) او واجباتوپه قصداًپرېښودولمونځ فاسد وي په سجده سهوه نه صحيح کيږي

(۲) په يوځل سهوه کيدويا له يوځل څخه زيات سهوه کيدلوسره يواځې يوه سجده سهوه لازميږي

(۳) که څوک په لومړي رکعت له سورة فاتحی مخکې التحيات شروع کړي سجده سهوه لازميږي

(۴) که په هيره قومه اوجلسه پاتې شي سجده سهوه لازميږي

(۵) که څوک سهواًداخرنۍ قاعدې پرځای پنځم رکعت ته پورته شي سجده سهوه لازميږي

(٦) که له يوچا څخه په فرض لمانځه کې په لومړنيورکعتونوکې دفاتحې سورت سهواًپاتې شي سجده سهوه پرې لازميږي خوکه په ورستيوکې پاتې شي نه لازميږي

(۷) دالتحيات ،دعاقنوت ، اوداخترنودتکبيرونوپه هيرېدوسره هم سجده سهوه لازميږي

(۸) که امام د پټ قرات پرځای جهري اودجهري پرځای خفيه قرات ووايي سجده سهوه پرې لازميږي

(۹) که چاته په لمانځه شک پيداشي چې څورکعته يې وکړل دوه يادرې که دايې لومړی ځل وي بيادې لمونځ له سره وکړي اوکه بيابياورته دغه شک رالويږي نوهماغه کمه اندازه دې په نظرکې نيسي په اخرکې دې دسهوي سجده وکړي

(۱۰) که يوڅوک دامام سره په اخرينورکعتونوکې شريک شي اوبيا دهغورکعتونودراګرځولوپرمهال چې ورڅخه تللې دي سهوه شي سجده سهوه پرې واجب ده

(۱۱) که چا د څلوررکعتوفرضوپرځای پردوورکعتوسلام وګرځول بياور يادشوچې دوه رکعته يې اداکړي دي چاسره دې خبرې نه کوي دوه دې نورهم وکړي دسجده سهوې په کولوسره يې لومنځ صحيح شو

(۱۲) که چاباندې سجده سهوه لازمه شوي وي اوپه اخره کې له ياده ووځي اوسلام وګرځوي په وريادېدوسره دې سجده سهوه وکړي التحيات به ووايي اوسلام دې وګرځوي

(۱۳) که يومسافرپه څلوررکعتيزلمانځه کې ددورکعتونوپه ځای پوره څلوررکعته وکړي اومنځنۍ قاعده کې کينې نوسجده سهوه دې وکړي پدې صورت کې به يې لومړې دوه رکعتونه به فرضواواخرني دوه رکتونه به يې په نفلوکې حساب شي

(۱۴) دامام په سهوې سره پرمقتديانو سجده سهوه لازميږي ، اودمقتدي په سهوې سره دجماعت پروخت نه پرمقتدي سجده سهوه شته اونه پرامام ، بلکې مقتدي به دامام متابعت کوي

پورته مسائل دفقې مشهورکتاب هدايه کې په تفصيل سره ذکرشوي دي لومړی
ټوک /329–34

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلمانځه سنتونه

د فرایضو او واجباتوترڅنګ په لمانځه کې ځینې نورکارونه داسې دي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) دلمانځه پرمهال په دوامداره توګه ترسره کړي دي که څه هم ددغوکارونو ترسره کول دلمانځه دفساد سبب نه ګرځي بلکې اجراوثواب لري ځکه چې دادرسول الله (صلی الله علیه وسلم) سنت دي اودسنتو ترسره کول له اجراوثواب څخه تش نه وي دغه سنت کارونه په لاندي ډول دي

(۱) دتکبیرتحریمه له ویلودمخه غوږونوته د دواړو لاسونو پورته کول

(۲) دلاسونود پورته کولوپرمهال ګوتې خلاصې پرېښودل

(۳) دتکبیرتحریمه څخه وروسته دنارینه ؤلپاره په نامه اودښځولپاره په سینه باندې لاسونه اېښودل

(۴) ښې لاس په چپ لاس اېښودل

(۵) دتکبیرتحریمه ویلو پروخت سرنه ټیټول

(٦) دامام لپاره د تکبیرتحریمه او ارکانوتکبیرونه په لوړاوازویل

(۷) سبحانک اللهم ویل

(۸) اعوذباالله ویل

(۹) په هررکعت کې دسورت فاتحې نه مخکې په پټه توګه بسم الله ویل

(۱۰) دفرض لمونځونوپه دریم اوڅلورم رکعت کې دفاتحې دسورت ویل

(۱۱) دفاتحې دسورت په ختمیدوسره "امین" ویل

(۱۲) ثناء ،اعوذباالله ، اوبسم الله په توګه ویل

(۱۳) په رکوع اوسجده کې لږترلږه درې ځله تسبیح ویل

(۱۴) په رکوع کې سراوملایوشان برابرول

**(۱۵) په قومه کې دامام لپاره( سمع الله لمن حمده) اودمقتدي( ربنالک الحمد)اودیواځې لمونځ کونکې لپاره داوړه ویل**

(۱٦) سجدې ته د تلو پر وخت لمړې زنګنونه په ځمکه لګول بیادواړه لاسونه بیاپزه او اتندی لګول

(۱۷) په جلسه اوقاعده کې دواړه پښې په داسې شکل درول چې دګوتوسرونه یې قبلې لوري ته برابروي اودواړه لاسونه په زنګنونواېښودل

(۱۸) په ورستی قاعده کې دالتحیات څخه وروسته درودشریف ویل

(۱۹) له درودشریف څخه وروسته ماثوره دعاویل یعنې : "الهم ربنا"ویل

(۲۰) لومړی ښي لوري اوبیاچپ لوري ته سلام ګرځول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلمانځه مفسدات

دلمانځه له مفسداتوڅخه مرادهغه کارونه دي،چې لمونځ فاسدوي اوباطل يې ګرځوي چې په لاندې ډول بيانيږي

(۱) په لمانځه کې خبري کول

(۲) دلمانځه په حالت کې قران کريم ته په کتلوسره تلاوت کول

(۳) دلمانځه له شرئطوڅخه که کوم شرط پاتې کيدل

(۴) دلمانځه له ارکانوڅخه دکوم رکن پاتې کيدل ، لکه رکوع ، قيام اوداسي نور....

(۵) دلمانځه له واجباتوڅخه کوم يو واجب په قصدسره پرېښودل

(٦) بې له عذره مرۍ صافول ، اوقصداًټوخيدل

(۷) دتکليف ، غم ، ياکوم مصيبت له امله ژړاکول ، که دغه ژړادالله (جل جلاله) وېرې وي پروانه کوي

(۸) قصداًياپه هيره په لمانځه کې خوراک څښناک کول

(۹) په لمانځه کې قدمونه اخيستل يويادوه قدمه دارتيا په اساس اخيستل پروانه لري

(۱۰)عمل کثيرکول ، يعنې په لمانځه داسي کارکول چې ليدونکی داسې ګومان وکړي چې داشخص لمونځ نه کوي

(۱۱) دقران پاک په تلاوت کې داسي ستره غلطي کول چې په معنا کې يې تغيرراشي

(۱۲) په لمانځه کې په قهقهه خنداکول

(۱۳) له ديوال ياکاغذڅخه دليکلې شوي شي په ژبه ويل

(۱۴) بغيرله امام نه بل چاته فتحه ورکول ، ددواړولمونځ کونکولمونځ فاسدوي

(۱۵) له موقع نه وروسته امام ته فتحه ورکول ، چې هغه بل ايت ته تللی وي که امام فتحه وانخلي دمقتدي لمونځ فاسديږي اوکه فتح واخلي دامام لمونځ فاسديږي ، نومقتدي ته په کارده چې په دغسي حالت کې دفتحې په ورکول عجله ونه کړي ، اوامام ته په کارده چې مقتديان فتحې ورکولوته اړنه کړي اوسمدستي رکوع ته لاړشي

(۱٦) ښځه له سړي سره ترڅنګ برابره ودرېدل ، په دې شرط چې دومره څنګ ودريږي چې رکوع ياسجده پکې کيږي خوکه داسي کومه کوچنۍ نجلۍ ودريږي چې نفساني ميلان ورته نه کيږي ياداچې ددواړوترمنځ پرده وي نولمونځ نه فاسديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دلمانځه مکروهات

**دلمانځه مکرهاتوڅخه مرادهغه کارونه دي چې لمونځ خوورسره نه فاسديږي البته مکروه کيږي ، ځان ساتل ورڅخه په کاردي دغه مکروهات په لاندي ډول دي**

**(۱) په سرباندي په داسي توگه څادريابل شی اچول چې دواړه لوري يې په اوږوباندي راځړيږي**

**(۲) کميس ياکورتۍ په داسې توگه پرځان اچول چې دواړه لستوڼي يې ځړيږي**

**(۳) جامې ځانته راټولول اوله دوړوساتل**

**(۴) دسجدې له ځای څخه بې ضرورته دډبرولرې کول يايوشی پوکول**

**(۵) له داسې جامې سره لمونځ کول چې په اسلامي ټولنه کې يې خلگ نه خوښوي**

**(٦) دتشوياڼکومتيازوته دضرورت په حالت کې لمونځ کول**

**(۷) دسرپولپاره دغوټه کړی شويو ويښتانوسره لمونځ کول**

**(۸) دگوتوڅخه ټقونه وېستل يادلاسونوپنجې يوپه بل کې ورکول**

**(۹) دسترگوپه کونجنوکې يوخوابل خواکتل**

**(۱۰) په سجده کې څنگلې پرېستل**

**(۱۱) داسې انسان لوري لمونځ کول چې مخامخ ناست وي که شاېې اړولې وي پروانه لري**

**(۱۲) دداسې جاموسره لمونځ کول چې دساه لرونکي شي عکس ورباندي وي ياپه داسې مصلی لمونځ کول چې دسجدې کولوپه ځای دساه لرونکی شي تصويروي ، په داسي ځای کې لمونځ کول چې دسردپاسه ښي ياچپ لوري ته دساه لرونکی شي عکس وي**

**(۱۳) چې په لومړي صف کې ځای وي سره له دی هم وروسته صف کې يواځی ودريدل**

**(۱۴) په لاس ياسر دسلام ځواب ورکول**

**(۱۵) په پټوسترگولمونځ کول . بغيرله عذره**

**(٦۱) يواځې په تندي يايواځې په پزه سجده کول**

**(۱۷) په خولۍ ياپټکې ياپه ول سجده کول**

**(۱۸) بې له عذره په لمانځه کې پلتۍ وهل**

**(۱۹) بې له اړتيا په لوړځای دامام يامقتديانو ودرېدل**

**(۲۰) رکوع ته دښکته کيدوپه حالت کې قرات پوره کول**

**(۲۱) دلمانځه له سنتوڅخه کوم سنت پرېښودل**

**(۲۲) دسجدې په حالت کې دواړه پښې له ځمکې نه پورته کول**

**(۲۳) په فرض لمونځوکې دقران پاک دترتيب خلاف قرات کول**

مثلا.په لمړي رکعت کې قل هوالله احد.اوپه دويم رکعت کې (تبت) وويل شي.

**(۲۴)په لمانځه کې په گوتوسره دسورتونو ياتسبحاتوشميرکول**

**(۲۵) په خوله کې ديوشي اچول چې دقرات مانع نه وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دجنازې لمونځ

لومړى درنځور په حقوقوباندې رڼا اچوو:

کله چې يومسلمان رنځورشي بايد نورمسلمان دهغه عيادت اوپوښتنې ته ورشي ځکه چې داپه يومسلمان باندې دبل مسلمان حق دى رسول الله (ص) فرمايلي دي : يومسلمان پربل مسلمان باندې شپږحقونه لري اوپه بل روايت کې پنځه حقونه لري له هغونه يودادى چې (( واذامرض فعده )) کله چې رنځورشي بايدپوښتنې ته يې ورشي د مريض عيادت ( پوښتنه کول ) دلاندې حالاتوپه اعتبارجلاجلااحکام لري

الف : که نارو غ دخفلوانوله جملې څخه وي پوښتنه يې فرض عين ده

ب : که خپلوان ونه لري پرنوروسلمانانويې پوښتنه فرض کفايي ده ، درنځورمسلمان پوښتنې ته ورتلل د هغه حق دي بايد اداء شي

ج: اوپه عاموحالاتوکې ديورنځورپوښتنه کول مستحب دي

پورته مسائل په (( سنن ابي داود، ۸ج ، ۲۴۸ص ، ۲۶۹۴ حديث ،کې ذکرشوي دي

## دجنازې دلمانځه احکام

دجنازې لمونځ فرض کفائي دى فرضيت يې له قران اوسنتوڅخه ثابت اومنکر ورڅخه کافردى

**الف : دجنازې دلمانځه فرضونه**

(۱) څلورځله الله اکبرويل هرتکبيرديورکعت ځاى نسي

(۲) قيام ودرېدل په جنازه کې بې له عذره کيناستل جوازنه لري

### ب : دجنازې دلمانځه سنــــــــتونه

(۱) نيت کول : يعنې په زړه کې تيرول چې د نارينه ياښځينه ، کوچيي هلک يا انجلۍ جنازه کوي چې نيت يې په لاندې ډول ده

نَوَيْتُ اَنْ اُؤَدِىَ لِلّٰهِ تَعَالى اَرْبَعَ تَكْبِيْرَاتِ صَلوةِ الْجَنَازَةِ اَلثَّــنَآءُ لِلّٰهِ تعالى وَالصَّلوةُ لِلرَّسُولِ وَالدُّعَآءُ لِهذَاالْمــيِّتِ اِقْتَــدَيْتُ بِهذَ الْاِمَـــامِ مُتَوَجِهًّاَالى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ (( الله اكبر))

(۲)ړحمداوثناويل (سُبْحانَكَ اللهُمَ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالى جَدُكَ وَجَلَ ثَنَآ ؤَكَ وَلَآ اِلهَ غَيْرُكَ

(۳) درودشريف ويل (اللهُمَ صَلِ عَلى مُحَمَّدٍ وَّعَلى الِ مُحَمَّدٍ كَمَاصَلَّيْتَ وَسَلَّمْتَ وَبَارَكْتَ وَرَحِمْتَ وَتَرَحَّمْتَ عَلى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلى الِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

(۴) دعاويل

**الف : دبالغ مړي دعا** ( نروي که ښځه ( اَللّٰهُــمَّ اغْفِرْلِحَيِّــنَاوَمَيِّـتِنَاوشَـــاهِدِنَاوَغَائِــبِنَا وَصَغِيرِنَاوَكَبِيرِنَاوَذَكَرِنَا وَأُنْــثَانَا اللّٰهُــمَّ مَنْ أَحْيَيْتَـــهُ مِنَّافَـأَحْيِهِ عَلَى الْاِسْــلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْـــتَهُ مِنَّا فَــتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيمَانِ اللّٰهُــمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَاتُــــضِلَّنَا بَعْدَهُ ))

**ب : دنابالغ مړي دوعاچې هلک وي** (( اَللهُمَّ اجْعَلهُ لَنَا فَرَطًاوَّاجْعَلـــهُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًاوَّ اجْعَلهُ لَنَا شَافِعاً وَّمشَفَّعاً ))

**که انجلۍ وي :** (( اللهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَالَنَآ اَجْرًاوَّذُخْرًاوَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

**زه دغه وړوکی کتاب خپل قدرمن پلار جان**

**ته ډالۍ کووم ځکه د ژوند په ټولوچاروکې**

**له ماسره ډيري هلي ځلي ترسره کړي.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**